Organization for Promotion of Health & Community Development

# موسسه ارتقاء صحت و انکشاف جامعه

## عملیاتي څانګه

## د غیر مشورتی خدماتو شرطنامه

د شرطنامې شمیره: OPHCD-NCB-03-2024

## د هلمند ۱۳۳ کلینکونو ته د تغذي موادو انتقال


**بشپړه پته:** هلمند ولایت، لشکرګاه ښار ، دوهمه ناحیه، څلورم ګذر، ناصري چوک، 9 بلاک، 11 نمبر کور، هلمند افغانستان

**د اړیکی شمیره:** 0707301934,0705782075

**بریښنالیک :** hlm.operation.ophcd@gmail.com

# منځپانګې:


1 لومړۍ ماده عمومي مالومات: ..................................................................................................................... 1

1.1 د OPHCD مو سسې په اړه: 1

2 د رضا کارانو له پاره د لار ښونی دویمه ماده: ..................................................................................... 1

2.1 د داوطلبۍ ساحه ــ عمومي شرایط........................................................................................ 1

2.2 3. دریمه ماده:..................................................................................................................... 2

2.3 4. څلورمه ماده.......................................................................................................................
Error! Bookmark not defined.

2.4 5. پینځمه ماده:.................................................................................................................... 2

2.5 واجد شرایط داوطلب ....................................................................................................... 3

2.6 د ورکړل شوي نرخ د اعتبار موده:.................................................................................... 3

2.7 د هوکړې/قرارداد موده:..................................................................................................... 3

2.8 د داوطلبۍ موده..................................................................................................................: 4

2.9 لاسلیک او شرطنامه...........................................................................................................: 4

2.10 تضمینات:........................................................................................................................ 4

3 د آفرونو د ارزیابۍ بڼه: ........................................................................................ 4

4 د کلینیکانو په اړه معلو مات: ........................................................................................................... 4

5 د داوطلب مالوما : ......................................................................................................
6

# 1 لومړۍ ماده عمومي مالومات:

## 1.1 د OPHCD مو سسې په اړه:

د ارتقأ صحت و انکشاف جامعه موسسه ( (OPHCD یوه غیر دولتي، غیر سیاسي او خپلواکه اداره ده چې په 2017 کې تاسیس شوې او په 4160 شمیره جواز سره د اقتصاد محترم وزارت د غیر دولتي موسساتو څانګې او همدارنګه د 762 شمیرې سره د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت سره راجستر شوې. سربیره پر دې دا موسسه د افغانستان د روغتیا ملي کلستر، د افغانستان د تغذیې ملي کلستر او ACBAR غړیتوب لري. OPHCD د یوې غیر دولتي موسسې په توګه د روغتیا، تعلیم، WASH، اقتصادي ثبات او د ټولنې دوامداره پرمختګ ته وده ورکولو له لارې د خلکو د هوساینې لپاره هڅې کوي چې د ښځو او ماشومانو، مخدره توکو کاروونکو، مهاجرینو او داخلی بې ځایه شویو او د ټولنې نورو محرومو او وروسته پاتې قشرونو باندې زیات تمرکز کوي.

# 2 دویمه ماده د نرخ ورکونکو لپاره لار ښوونې:

د OPHCD موسسه د WFP په مالی او تخنیکی مرسته په هلمند ولایت کی د ټي ایس ایف پي (TSFP) پروژه تطبیقوی چې ددی پروژی تر چتر لاندی د هلمند ولایت په ټولو ولسوالیو کی 133 روغتیایي کلینیکونو ته 150 میټرک ټنه د تغذی مواد په میاشت کی انتقالوی چی دغه ذکر شوو کلینکونو ته ددی موادو د انتقال کولود خدماتو ته ضرورت لري. دغه قرارداد د ۱۷ میاشتو لپاره دیی چی د اګست ۲۰۲۴ څخه شروع او تر دسمبر ۲۰۲۵ پوری دوام لری. د مربوطه روغتیایي کلینیکانو اړوند معلومات لاندې ذکر شوي دي. د OPHCD موسسه غواړي چې یو داسې د انتقال کولو (ترانسپورټي) یا لوژستیکی خدماتو شرکت یا حقیقی شخص سره قرداد وکړي چې ذکر شوی مقدار تغذي مواد په سلسله وار ترتیب سره مربوطه روغتیایي کلینیکانو ته په میاشتنی ډول انتقال کړي. نو په همدی اساس OPHCD موسسه په هلمند ولایت کې د ذکر شوی مقدار تغذي موادو د انتقال موضوع د نرخ اخیستنې لپاره اعلان ته ورکوي تر څو اړونده شرکتونه یا حقیقی اشخاص وکولی شي د نرخ ورکونې پروسه کې ګډون وکړي او ګټونکي شرکت یا حقیقی شخص سره د شرطنامې سره سم تړون لاسلیک کړي.

## 2.1 د نرخ ورکونې ساحې ـ عمومي شرایط

**د انتقالاتي یا لوژستیکی خدماتو شرکت یا حقیقي شخص اړوند شرطونه:**

1) هغه شرکتونه یا حقیقي اشخاص چې په نرخ ورکونه (داوطلبۍ) کې ګډون کوي د نرخ ورکونې په ورځ باید د شرکت جواز یونقل او د شرکت مهر(ټاپه) له ځان سره ولري او حقیقی اشخاص خپله تذکره د ځان سره ولری
2) هغه شرکتونه یا حقیقي اشخاص چې د نرخ ورکونې (داوطلبۍ) مجلس کې ګډون کوي د شرکت د رئیس او یا معاون د نه شتون په صورت کې دې اړونده شرکت یا حقیقی شخص خپل با صلاحیته استازی د رسمي مکتوب له لارې یادې موسسې ادارې ته معرفي کړي.
3) نرخ ورکونکي شرکتونه یا حقیقي اشخاص مکلف دي چې د همدې شرطنامې ټول موارد مطالعه/ملاحظه او ځان ډاډه کړي، او نورو معلوماتو ته د اړتیا په صورت کې د آفر ګشایۍ (هوکړې پرانیستغونډې) ورځې څخه تر یوې ورځې مخکې پورې کولی شي د موسسې د عملیاتي دیپارتمنت څخه د ایمیل پواسطه (hlm.operation.ophcd@gmail.com) معلومات ترلاسه کړي.
4) آفر به پاکټ بند چې د شرکت یا د حقیقی شخص امضاء او مهر پرې وهل شوی وي، له نورو غوښتل شوو اسنادو څخه بېل د آفرګشایۍ په آرایه کوي.

5) د آفر قیمت به په افغانیو وي او پاکټ بند به د فیاتو له ټولې محاسبې سره، پرته له قلم خوردګۍ، په تورو او اعدادو لیکل شوی په بېل پاکټ کې وي. مجموعي قیمت باید له مخکې شکاستیپ شوي وي.
6) د قرارداد ګټونکي شرکت یا حقیقي شـخص به خپل یو تن کارمند د تغذي مواداو د انتقال د پروسی د ښې همغږۍ په موخه رسماً موسسې ته معرفي کوي چې د هوکړه لیک (قرارداد) تر پایه به یاد کارمند خپله دنده پر مخ وړي.
7) د شرطنامې ټولې پاڼې باید د نرخ ورکونکي شرکت یا شخص له لورې لاسلیک او ټاپه شي.
8) د نرخ ورکونکي ټول اسناد د آفرګشایۍ مجلس (نرخ ورکونی پرانیست غونډی ) څخه مخکې د ګمارل شوي هیئت له لورې کتل/چک کیږي.
9) نرخ ورکونکی مکلف دی چې د آفرګشایۍ (نرخ ورکونی پرانیست غونډی ) څخه مخکې (100000) یو لک افغانۍ د د نرخ ورکونی د پروسی د تضمین (Bid Security) په ډول نقداً او یا د بانکي سند (ګرنټی لیټر ) د آفرګشايي مجلس کې کمېټې ته ورکړی.
10) د نرخ ورکونی تضمیني پیسې (Bid Security) به د ارزیابۍ پروسې او د قراردادونو کمېټې له نهایي پرېکړې څخه وروسته ټولو نرخ ورکونو شرکتونو او یا حقیقی اشخاصو ته ورکول کیږی.
11) د قرارداد ګټونکی شرکت یا شخص مکلف دی چی د د قرارداد د حسن اجرآ یا (Performance Guarantee) په هدف د قرارداد د مجموعی قیمت پنځه فیصده مبلغ نقدآ او یا د بانګ ګرنټی په ډول د قرارداد د امضآ څخه مخکې موسسی ته رسمآ تسلیم کړی چی د قرارداد تر ختم پوری د موسسی سره د تضمین په ډول پاتی کیږی. کچیرته ګټونکی شرکت یا شخص د قرارداد په موده کی خپل مکلفیتونه او مسؤلیتونه د قرارداد او ددی شرطنامی د موادو سره سم په درست ډول ادا نکړی نو پدی صورت کی بی دغه د تضمین پیسی موسسی ته د اوښتی زیان د جبران په موخه استفاده کیږی او قراردادی ته نه ورکول کیږی.

## 3 دریمه ماده د موسسی مکلفیتونه:

- په میاشتنی ډول ۱۵۰ ( کم یا زیات )مټریک ټن مواد کلینکونو ته انتقالیږی اما د تغذي موادو په آندازه کې زیاتوالی او یا کموالی د اړتیا په اساس او د موسسې د پالیسۍ مطابق تنظیم کیږی.
- که نرخ ورکونکي شرکت یا حقیقي شخص له شرطنامې سره سم د آفرګشایۍ (نرخ ورکونی پرانیست غونډی) په ورځ خپل ټول اسناد له ځان سره ونه لري او د ګمارل شوي هیئت قناعت حاصل نه کړي د داوطلبۍ پروسه کې ګډون نه شي کولی.
- ددی قرارداد موده چی اوس ۱۷ میاشتی ذکر شوی د پروژی د مودی تابع ده نو پدی اساس ممکن دغه موده کمه او یا زیاته شی.
- د تغذيي موادو مهال ویش او د تعذيي مواد به د موسسې له طرفه ورکول کیږي.
- د موسسی ولایتی دفتر د هر کلینک د موادو مقدار تعینوی او د یو رسمی بارنامی په ډول ېی قراردادی شرکت ته د انتقال لپاره تسلیموی.

## 4 څلورمه ماده د قراردادی مکلفیتونه:

- قراردادی مکلف دی چی هغه مقدار مواد چی ( ۱۵۰متریک تن یا د ۱۵۰دمتریک څخه کم یا زیات ) په همغه میاشت کی ټولو (۱۳۳) روغتیايي کلینیکونو ته انتقال کړي( یعنی د مواد مقدار کم او زیات کیدای شی) .

- قراردادي د شرطنامې سره سم باید موادو د انتقال پروسه کې ځنډ رامنځته نه کړي او په خپل وخت د مهال ویش سره سم تغذي مواد یادو شوو روغتیایي کلینیکونو ته رسوي.
- د منظور شوي مهال ویش سره سم د موادو لیږد به د تړون له اساسي شرطونو څخه وي.
- قراردادي باید په هر ډول اقلیم شرایطو کې د موادو خوندي لیږد لپاره ټول اقدامات وکړي.
- د تغذي مواد په داسې ډول انتقال شي چې خراب نه شي او روغ او سالم ورسیږي.
- د تغذیي موادو د انتقال په دوران کښې د ورکیدو مسؤلیت به د قراردادی په غاړه وي.
- قراردادي باید کارتنونه روغ او سالم مربوطو کلینکونو ته ورسوي.
- قراردادي باید د مربوطو کلینکونو څخه د انتقال وروسته د مسؤل شخص څخه رسید ترلاسه کړئ
- قراردادي به تغذي موادو تسلیمي په حساب د موسسې له د ولایتي دفتر د سټاک له مسؤلینو څخه اخلي او اړونده کلینیکونو ته تر رسولو پورې د ټولې پروسې مسؤلیت پر غاړه لري، یادو شو کلینیکونو ته تر سپارلو وروسته به له هغوی څخه د لاسلیک شوې رسید پاڼه (بارنامه) ترلاسه کوي.
- د تغذي موادو له سټاک څخه بارول او کلینیکونو سټاک کې ښکته کول د قراردادي پر غاړه دي.
- که چیرې د غذایي موادو ناوړه ګټه اخیستنه قراردادی باندی ثابت شي، د هغه قرارداد لغوه فسخ او د تضمین پیسې به د تاوان جبران لپاره کارول کیږی

## 5 پنځمه ماده د پیسې او د پیسو د ورکړې ډول

- نرخ ورکونکی (داوطلب) د قیمت ورکولو په وخت کې باید ټول مالیات او قانوني واجبات چې دولت ته یې تادیه کوي باید په خپل ورکړل شوي نرخنامه کې پام کې ونیسي؛
- پیسې د هرې میاشتې په پای کې قراردادی ته د ټولو لیږد رسیدونو سپارلو وروسته ورکول کیږي
- شرکت یا حقیقی شخص چې هر روغتیایی مرکز ته تغذیي مواد ورکوي، د بل یوه کاپی به د کلینیک آمر او بله کاپی چې د کلینیک د آمر تاییدي پرې له ځان سره ساتي تر څو حسابی په ورځ یې له ځان سره ولري.
- د قراردادي پیسې به د هر انقال وروسته د اسنادو پر اساس او د مالی(دولتی تکس) وضع کولو وروسته په نقدي ډول ورکول کیږي.
- قیمتونه باید په افغانۍ وي او د پیسو ورکړه به هم په افغانبو وي.

### a. واجد شرایط داوطلب

هغه شرکت یا حقیقي شخص په داوطلبۍ کې واجد د شرایط ګڼل کیږي چې قانوني جواز او افغانی هویت (تذکره )ولري.

### b. د ورکړل شوي نرخ د اعتبار موده:

نرخ ورکونکی هوکړه کوي چې د ده لخوا ورکړل شوی نرخ به د آفرګشایۍ له ورځې څخه پیل تر 60 ورځو پورې د اعتبار وړ وي او د قرارداد په ورکړل شوي نرخ کې به کوم بدلون نه راځي.

### c. د هوکړې/قرارداد موده:

د قرارداد موده ۱۷ میاشتې ده، او د اړتیا په صورت کې ددواړو خواوو په رضایت به د تمدید وړ وی. د موسسی لخوا د قرارداد د یو طرفه فسخ حق د موسسی سره خوندی دی او پداسی شرایطو کی به یوه میاشت مخکی قراردادی شرکت ته خبر ورکوی.

### d. د داوطلبۍ موده

د دې داوطلبۍ لپاره ټاکل شوې موده 23 / 04 /1403 نېته ، چې 13 / 07 / 2024 سره سمون لري د شنبه ورځ 10:00 بجې/بجو پای ته رسیږي. نرخ ورکونکی مکلف دي چې د یادې مودې تر پای ته د رسېدو مخکې خپل پاکټ بند آفرونه(د نرخونو ورقې) په لاندې پته باندې د موسسې اداری ته تسلیم کړي.

**بشپړه پته:** ناصري چوک، 2 ناحیه، 4ګذر، 9 بلاک، 11 نمبر کور، هلمند افغانستان

**اړیکې شمېرې:** 0707301934,0705782075

### e. لاسلیک او شرطنامه

نرخ ورکونکی مکلف دی چې د دې شرطنامې ټولې پاڼې لاسلیک او ټاپه کړي

### f. تضمینات

- نرخ ورکونکی شرکت یا حقیقي شخص مکلف دی چې د دویمې مادې ۷ او ۸ بند مطابق خپل بانکي تضمین په داوطلبۍ مجلس کې کمیټې ته چمتو کړي او وښايي.
- قراردادي باید د قرارداد ۵ فیصده د بانک ګارنټي په شکل د قرارداد د حسن اجرا په شکل OPHCD ته تسلیم کړي.
- د بانک ګارنټي د قرارداد د شروع نه تر د قرارداد د ختمیدو وروسته یوه میاشت پوری اعتبار ولري.

## 4. د آفرونو د ارزیابۍ بنه

راټول شوي آفرونه د ټاکل شوې مودې څخه وروسته د موظف شوې کمېټې له لورې د لیکل شوو معیارانو پر اساس او ورکړل شوو قیمتونو په مقایسې او ارزونې ته په کتو ګټونکی شرکت یا حقیقي شخص ته د یوې اونۍ په موده کې د قرارداد د پروسې د بشپړېدو په موخه اړیکه نیول کیږي.

## 5. د کلینیکونو په اړه معلو مات:

| نمبر شماره | ولسوالي | د تغذیې موادو مقدار (میټرک ټن فی میاشت) | روغتیايي کلینونه |
|---|---|---|---|
| 1 | بغران | 10 | |
| 2 | دیشو | 2 | |
| 3 | ګرمسیر | 13 | |
| 4 | کجکی | 13 | |
| 5 | خانه شین | 3 | |
| 6 | لشکرګاه | 15 | |
| 7 | مارجه | 11 | |
| 8 | موسی قلا | 11 | |
| 9 | ناد علي | 12 | |
| 10 | نهر سراج | 21 | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 11 | نوزاد | 9 | |
| 12 | ناوهٔ بارکزائی | 13 | |
| 13 | سنگین | 9 | |
| 14 | واشیر | 10 | |

نوټ: باید د انتقالاتو خدماتو شرکت یا حقیقي شخص پورتني ذکر شوي کلینیکانو د ضرورت په اساس تغذیي مواد انتقال کړي.

## 6 د اړتیاوو جدول:

**د مشخصاتو جدول**

**د تغذي موادو انتقالول**

**OPHCD-NCB-03-2024**

| شماره | اسم و مشخصات جنس | واحد | مقدار | قیمت فی واحد | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | تغذي مواد | **میټرک ټن** | ١ | | |
| **مجموع** | | | | | |

1) وړاندی شوی قیمت به په یوه قرارداد کې تنظیم میږي او د ضرورت پر اساس تعداد کې تغییرات راتللی شي، او د پیسو پرداخت د انتقال شوو موادو پر اساس کیږي.

زه تصدیق کوم چې پاس وړاندی شوی نرخ مې د شرطنامې له ټولو مادو له لوستلو او ملاحظې څخه وروسته لیکلی او ارایه کړی.

**په درنښت**

**نوم**

**د شرکت/شخص لاسلیک او ټاپه**

## 6. د داوطلب معلومات

**د داوطلب د معلوماتو فورم**

**داوطلبۍ شمېره: OPHCD-NCB-03-2024**

**د آفر د آراېي نیټه:**

| | |
|---|---|
| قانوني نوم | |
| د جوړېدو کال | |
| بشپړ قانوني پته | |
| د شرکت د باصلاحیته استازي معلومات | نوم: ...........................................................<br>په شرکت کې دنده:.......................................................<br>تذکېرې شمېره:.......................................................<br>اړیکي شمېرې:.................................................................<br>ایمیل آدرس:...........................................................................<br>لاسلیک:........................................................................... |
| نمبر تشخصیهTIN | |